# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبــــاد          بدین بوم وبر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم          از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com          afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



**محمد ایاز نوری**

جون لومړی ۲۰۰۹




اعلیحضرت امان الله خان غازی
در هنگام پادشاهی

## رښتینو آزادي پالوونکو افغانانو ته!

### د هغه ملي اتل غازي اعلیحضرت امان الله خان د زوکړې د ۱۱۷ تلین په مناسبت مبارکي وایم

د ۱۲۷۱ هجري لمریز کال د غبرګولي (جوزا) د میاشتي یوولسمه، د ۱۸۹۲ میلادي کال د جون د میاشتي لومړی نیټه وه، چي د ښکلي او لرغوني افغانستان د وخت د بادشاه امیر حبیب الله خان په کور کي یو زوی وزیږید. بادشاه او ملکي د دې زوی نوم **امان الله** کښېښود. هغه ضعیف البنیه ماشوم په زانګو کي لاس پښي وهل او خپلی مور ته به یې موسکاوې او ژړاوې کولې او لوئیده. څوک خبر وه؟! ،(سیواء د حکیم الله تعالی څخه)، چي په نه لرې راتلوونکي کي به له دې نوي زیږېدلي شهزاده ماشوم څخه د افغانستان بادشاه او ورسره داسي یو ملي قهرمان جوړیږي، چي د وخت کبرجن، غاصب او مکار زبرځواک، انګریزي استعمار به لومړی په ګونډو کوي او وروسته به یې په خپلو درندو څپېړو ترهغه دمه پورې وهي چي د خپل فخرمن هیواد بشپړه خپلواکي ورباندې ومني.

هو! دلته خبره او یاد د ګران هیواد افغانستان د خپلواکی د محصل د لوی غازي اعلیحضرت مرحوم امان الله خان د زوکړې یادول دي. کیدای شي نن زه د هیواد د لوستو کسانو له جملې څخه یوازنی کس اوسم، چي قلم ته لاس کوم او د دې ملی اتل د زوکړې په مناسبت څو کرښې لیکم، پوره ډاډ لرم، زه به ژوندئ یا به نه وم، خو دا

به یوه ژر تیرېدوونکی پړاو وي، او د افغانستان خپلواکي پال ملت به په راتلوونکي کي دا له شانه ډکه نیټه په پوره برم سره لمانځي.




غازی اعلیحضرت امان الله خان
در عُنفوان جوانی

اعلیحضرت امان الله خان د امیر حبیب الله خان دریم مشر زوی، د امیر عبدالرحمن خان لمسی، د امیر محمد افضل خان کړوسی، د امیر دوست محمد خان کودی، چي دا سلسله د سردار پاینده محمد خان او بیا د سردار جمال خان بارکزي پورې ورغزېږي. مور یې ملکه سرور سلطانه چي په (سراج الخواتین) ملقبه وه، د امیر شیر علی خان د دربار د شاه غاساسي شیردل خان لور او د خوشدل خان خور کیده.

درنو افغانانو!

دلته بنستیزه خبره دغه ده، چي هر انسان دي نړۍ ته د یوه ثابت خصوصیت او کرکټر سره راهست کیږي. دا هم ممکنه ده چي د ماشوم توب په پړاوکي د ودې چاپیریال او کورنی خصوصا د مور او پلار وضعیت او چلند د یوه انسان په راتلوونکي خپل اغیز شیندي، او معمولا شاه زادگان نازولي، مغرور، بی عاطفي، حریص او عیاش وي، لیکن د نړۍ په سیاسی دربارو کي د ځانګړو شخصیتونو او بادشاهانو بیلګي که څه هم کمي خو شته دي.
دلته زما مطلب د امیر حبیب الله خان د ډیرو زامنو په کتار کي د هغه یو زوی امان الله خان دی. بادشاه زوی امان الله خان په خپل ذاتي فطرت کي یو ذهین، زیرک، متواضع، زړه سواند، له انحرافي تفریحو څخه بیزاره، د خپل پلار په منفی کړو وړو منتقد او خجل، په خپل ملت هیواد او خلکو مین، ترقی پال او لوی آزادي پال انسان وه. د همدې غوره صفتونو په ترڅ کي د هغه زماني یو شمیر لوستي په هیواد او افغان ولس زړه سوانده افغانان چي د مشروطیت غورځنګ یې تشکیل کړی وه، په دې شهزاده راټول شول، هم هغه وه چي د ۱۹۱۹ م کال د فبرورۍ د میاشتي په ۲۸ نیټه کله چي امیر حبیب الله خان ووژل شو، امان الله خان رسما د افغانستان پادشاه وټاکل شو. هغه دم بادشاه امان الله خان ۲۷ کلن ځوان، سخت متحرک او د زوروور زړه خاوند وه. دا وخت افغانستان د انګریزي امپراتورۍ په زنځیرو کي لاس پښې وهل. اعلیحضرت امان الله خان غاصب ته د جګړې اعلان ورصادر کړ، چي په نتیجه کي یې د ګران افغانستان سیاسی خپلواکی تر لاسه شوه. امانی مستقل دولت د هیواد د پرمختګ لپاره لوی کارونه تر سره کړل.

اعلیحضرت امان الله خان د دوهم ځل لپاره د افغان لوی ملی شخصیت محمود خان طرزی د لور ثریا جان سره په کال ۱۹۱۳ م کي واده وکړ، چي د اولادونو د جملي څخه یې اوس یو زوی والاحضرت ډاکټر احسان الله خان او درې لوراني، شاهدخت ملیحه جان، شاهدخت هندیه جان او شاهدخت ناجیه جان ژوندي دي.

د امانی مستقل دولت پس له لس کالنو شتون څخه د ۱۹۲۹ م کال د می په ۲۴ نیټه د انګریزي استعمار د توطئي له کبله ظاهرا د یوه داړه مار افغاني ګروپ په واسطه چي مشري یې یو لوی ملی خاین، شرمیدلي حبیب الله (بچه سقو) کوله له منځه ولاړ، چي له هغې نیټي تر نن پورې د افغانستان ملت د سوکالۍ ورځ ونه لیده. نن

زمونږ هیواد په بشپړه توګه د امریکایانو او انګریزانو له خوا د تروریزم سره د مبارزې تر عنوان لاندې نیول شوی دئ. مونږ نه سیاسی استقلال لرو او نه اقتصادي خپلواکي...؟!



اعلیحضرت غازی امان الله خان
در خردسالی

اعلیحضرت غازی امان الله خان پس له ۳۱ کاله جلا وطنۍ د ۶۸ کالنو په عمر د ایټالیا په هیواد کې له دې نړۍ سترګې پټې کړې.هغه غازي بادشاه ارمانی له دې دنیا نه ولاړ، لیکن نوم او کارنامې یې ابدي د افغانستان د آزادی پال ملت په ذهن کې پاتې دي.

## غازي امان الله خانه!

## روح دې ښاد او ګور دې وړنګین اوسه!!! (آمین)

پورتال "افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان" روان اعلیحضرت امان الله خان غازی، این پادشاه آزاده ، افغان کبیر و "قهرمان ملی واقعی" افغانستان، را با روان تمام غازیان و شهیدان و جانبازان معرکهٔ استقلال وطن، خشنود و شامل الطاف خداوندی آرزو میکند.

## روانشان شاد و فردوس برین مأوایشان باد!

ادارهٔ پورتال ***AA-AA***